(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۴۰ | څښې خلق (نظم) | ۷۵ |
| ۴۱ | ښته په سپرلي کښې د پرګلو نه ښته دے | ۷۶ |
| ۴۲ | ته چې پکښې نه ئې اشنا زه په خلقو څه کوم | ۷۷ |
| ۴۳ | مور (نظم) | ۷۸ |
| ۴۴ | د ښو د سر د پاسه (غزل) | ۸۱ |
| ۴۵ | نن د باران شپه روېده شوه جوړې (غزل) | ۸۲ |
| ۴۶ | ښه اخلاق (نظم) | ۸۳ |
| ۴۷ | په یمو باندې راواوړې (غزل) | ۸۴ |
| ۴۸ | ګیله دې په سر سترګو دې ګېلې سره به ګورو | ۸۶ |
| ۴۹ | ستا مینه لالیه د روغښه شوه (غزل) | ۸۷ |
| ۵۰ | لوُر (نظم) | ۸۸ |
| ۵۱ | شپه د انتظار (نظم) | ۹۰ |
| ۵۲ | لوبه (نظم) | ۹۴ |
| ۵۳ | لوبه (نظم) | ۹۶ |
| ۵۴ | فریاد (نظم) | ۹۸ |
| ۵۵ | شاهیت (نظم) | ۱۰۰ |
| ۵۶ | یادونه اُمیدونه (نظم) | ۱۰۳ |
| ۵۷ | پښتون (نظم) | ۱۰۴ |
| ۵۸ | نصیحت (نظم) | ۱۰۶ |
| ۵۹ | مینه چې پیدا شي فنا کیږي نه (غزل) | ۱۰۸ |
| ۶۰ | تا چې په سترګو سترګو کښې تېره کړه (غزل) | ۱۰۹ |
| ۶۱ | مینه (نظم) | ۱۱۰ |

۲- د جونګړې لوګے ښۀ دے
زۀ ئې او ښکو سره مل کړم
محدود ته به زۀ څۀ کړم
چې زۀ یم پکښې پرېشانه

۳- د بنګړو شرنګا مې اورې
د سنګو مې خبر نۀ شو
آ زما ساده جانان چې
په کوم جهان کښې اوسيږي

۴- ما په ګودر ډک منګے بیا کښېښودو
ستا د شملې ول راته ښکاريږي نه

د غزل نه پس د ممتاز د نظم په ميدان کښې تګ هم د دې
د شاعرۍ د پوخ والي دليل وړکوي - حقيقت دا دے چې څنې
څنې نظمونه ئې د خيالاتو او جذباتو په لحاظ زۀ شاهکار
ګڼم - لکه "لوپټه" "پښتون" "قسمت"

د نچېن کلي ئې کورونه او داسې نور ډېر نظمونه چې
مګر شاعرانو به دا موضوعات چېړلي وي - بهرحال درابعه
ممتاز دويم کتاب "پرهونے" ستاسو په مخکښې دے او
ورسره د نچېن دريم کتاب "د ګلونه پاڼې پانې" د ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښې خلق

کینه ور دي زوَر ور دي ښُې خلق
ډېر په کبر په غرور دي ښُې خلق

چې په وینو د انسان هم نهُ مړېږي
په دنیا کښې ښُناور دي ښُې خلق

چې دنیا څوک د عقبىٰ د سره زار کړي
ګوره څومره بختور دي ښُې خلق

چې بېګاه سبا د خدائے یاد کښې مشغول وي
خدائیګو هرچانه بهتر دي ښُې خلق

ممتاز نن ورشه پخپله ئې ښځلا کړه
چې لهُ تانه مَرَوَر دي ښُې خلق

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته غیرت د دوښو د بابا د سر شمله یې ته
چرې سپکه مه شې په دښتیا قیمتی لال یې ته

ته د پردی کور یې مور دې هر وخت پرېشانه وی
ته که به کودر یې یا ولاړه به د دیوال یې ته

څه اوکړمه لورې دا د خدائ او رسـول لاره ده
خدائ دې جدا مکړه خو جدا رانه فی الحـال یې ته

ته به شې واده زه به دې کورکښې سودائی شمه
کړحم به ټول کورکښې چې به لورې په خړ حال یې ته

تخت خو به زه درکړمه خو بخت دې درله خدائ درکړی
شپه او ورځ یې خدائ ته ممتاز دغه بس یو سوال دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

په هر طرف چې ځې نو زړهٔ به ستا دلاس همسا شم
ما مهٔ پرېږده یوا ځې زهٔ به ډېره وارخطا شم

بې تا نو زهٔ ژوندون هېرو په ژوند نهٔ حسابوم
تهٔ ولې راته وائې چې زهٔ پاتې تر سبا شم

رقیب زموږ تر مېنځه د نفرت لاړې تؤ کلي
د هر څهٔ به صفا شي نو که زهٔ درنه پخُلا شم

برباده ژندګي ده، هېڅ په چل ئې نهٔ پوهېږ م
په کومه لاره ورشم او په کومه ترې نه راشم

ممتاز د اسې صادقه ده چې هر څهٔ به هوا کړي
نو تهٔ دې نیت صفا کړه چې زهٔ پوهه په دنیا شم

